# فیضانِ اهلِ بیت

پښتو




شیخِ طریقت، امیرِ اهلسنت، بانیِ دعوتِ اسلامي، حضرت علامه مولانا ابو بلال

**محمد الیاس عطار قادري رضوي**

دامت برکاتهم العالیة

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ؕ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ؕ

# فيضانِ اهلبيت

دعائے عطار: يا الله پاکه! چې څوک هم دا رِساله "فيضانِ اهلبيت" اُولولي يا ئې واورِي هغه ته او د هغه راتلونکو نَسلُونو ته د اهلِ بيت کرام عَلَيْهِمُ الرِّضْوَان رينښتوني غلامي نصِيب کړې او د هغه بےحسابه بخښنه نصِيب کړې-

اٰمِين بِجَاهِ النَّبِيِّ الْاَمِين صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## د دُرود شريف فضيلت

د حضرت مولٰي علي رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ فرمان مبارک دے:" د هر کس دعا په پرده کښې وي تردې چې په نبي کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم او د هغوئې په آلِ باندې درود شريف اووائي-" (معجم اوسط ج۱ ص۲۱۱ حديث ۷۲۱)

اُن کے مولیٰ کے اُن پر کروڑوں دُرود
اُن کے اَصحاب و عترت پہ لاکھوں سلام

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِيْب! ❁❁❁ صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## ساداتِ کرام سره د حُسنِ سلوک کولو عظيم الشّان انعام (حکايت)

په کوفه کښې د يو نيک کس په کاونډ کښې ابُو الحسن علي بن ابراهيم نومې د ورِو والا يو مالدار تاجر اوسيدو- يوه ورځ يو سيّد صاحب د هغه نه اوره اوغوښتل، هغه ترينه د وره پيسې اوغوښتې ، نو هغه سيّد صاحب ورته

اوفرمائيل: ”زما سره مال نِشته، البتّه ته زما دا قرض زما د نيکه **محمّدُ رَّسُولُ اللّٰه** په ذمه اُوليکه-“ ابو الحسن علي بن ابراهيم هغه ته وره ورکړل او دا قرض ئي **د اللّٰه** پاک د خوږ حبيب صَلَّى اللّٰه عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په ذمه باندې اوليکو (د دې معاملے چې کله عَلَوي، حَسَني، حُسَيني سيدانو حضراتو ته پته اولګيده نو هغوئي هم د ده نه د وره اوغوښتل نو هغه دوئي ټولو ته وره ورکړل او ټول قرض ئي رسولُ اللّٰه صَلَّى اللّٰه عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پسې اوليکلو) دا سِلسِله د څه وخته پورې چليده، تر دې چې د ده سره مال ختم شو او غريب شو- يوه ورځ هغه [تاجِر] د شيخ عمر بن يحيٰ عَلَوي رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه په خدمت کښې حاضر شو او ټوله واقعه ئې هغوئي ته بيان کړه او هغه تحرير ئې هم هغوئي ته اوښودلو په کوم کښې چې دوئي ټول قرض په نبي کريم صَلَّى اللّٰه عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پسې ليکلے وو- د شپې چې کله [هغه تاجر] ابو الحسن علي بن ابراهيم اوده شو نو په خوب کښې ورته د نبي کريم صَلَّى اللّٰه عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم او حضرت علي رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ ديدار نصيب اوشو- خوږ نبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ورته اُوفرمائيل: اے ابو الحسن ته ما پيژني؟ ابو الحسن علي بن اِبراهِيم عرض اوکړو: آو جي! تاسو د **اللّٰه** پاک خوږ رسول صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ئې د **اللّٰه** پاک خوږ آخري نبي **مُحَمَّدِ عَرَبِی** صَلَّى اللّٰه عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ورته ارشاد اوفرمائيل: ”تا زما شکايت ولے کړے دے؟ حالانکه تا زما سره معامله کړي ده-“ هغه عرض اوکړو: آقا! زه محتاجه او تنګدسته شوے ووم-“ د **اللّٰه** پاک خوږ نبي مکِّـي مَدَنـی صَلَّى اللّٰه عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ورته اِرشاد اوفرمائيل: ”که تا ما سره معامله [يعني قرض] د دنيا د پاره کړے وي نو چې زه تا ته د دې بدله اوس درکړم او که ما سره دِ معامله د

آخرت د پاره کړي وي نو بيا صبر اوکړه، بےشکه زما سره ډيره ښه بدله ده-" ابو الحسن علي بن ابراهيم باندې وَجَد راغے او په ژړا ژړا د خوبه رابيدار شو- او د ځنګلونو او غرونو طرف ته اُووَتو- څه ورځې پس هغه د غره په يو غار کښې وفات اُوموندے شو- خلقو راوچت کړو او د جنازے نه پس ئې خخ کړلو- په دغه شپه د کوفے اووه بزرګانو حضرت ابو الحسن علي بن ابراهيم رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَيۡه په خوب کښې اوليدو چې د ريښمو شين لباس (يعني قيمتي لباس) ئې اچولے دے او د جنت په باغونو کښې ګرځي، هغوئي ترينه تپوس اوکړو: اے ابوالحسن! تاسو ته دا انعام څنګه حاصل شو هغوئي ارشاد اوفرمائيل: چا چې د حضرت محمد صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سره معامله اوکړه هغه ته به هغه څه ملاويږي کوم چې ما ته حاصل شو، خبر شئ چې! بےشکه ما د خپل صبر په برکت د خوږ پيغمبر صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ګاونډ حاصل کړو- " (شرف المصطفي ج۳ ص۲۱۶) د الله پاک دِ په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په خاطر دِ زمونږه بے حِسابه بخښنه اوشي.

اٰمِين بِجَاهِ النَّبِيِّ الْاَمِين صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

آل سے اصحاب سے قائم رہے　　تا اَبَد نسبت اے نانائے حسین

(وَسائلِ بخشِش ص۲۵۷)

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب　　صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## ريښتونے عاشق څوک دے؟

اے د صحابه او اهل بيت عاشقانو! دا حقيقت دے چې کله د "چا" سره محبّت پيدا شي نو "هغه" سره نسبت لرُونکي هر څيز سره محبت پيدا شي، که د محبوب اولاد وي او که ملګري ټول خوارۀ شي، دغه شان چې د چا د الله

پاک آخري نبي، مکي مدني، مُحَمَّدِعَرَبِی صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم سره مينه پيدا شي نو د هغه آلِ پاک سره ئي هم مينه پيدا شي او صحابه کرامو عَلَیْہِمُ الرِّضْوَان سره هم، که په چا کښې عشق رسول ليدل غواړې نو اوګوره چې د صحابه کرامو او اهل بيتو عَلَیْہِمُ الرِّضْوَان سره څومره محبت کوي- يقيناً که څوک د اهل بيتو رينښتونے مُحبّ او مُعتقِد وي او ورسره د ټولو صحابه کرامو عَلَیْہِمُ الرِّضْوَان د زړه د اخلاصه ادب او احترام کوي او ټول صحابه کرام رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنۡهُم جنتيان ګڼړي نو داسې خوش نصيبه په حقيقت کښې رينښتونے او پوخ عاشق رسول او عاشق صحابه دے- الله پاک دِ دَ داسې خلقو په برکت زمونږ بےحسابه بخښنه نصيب کړي-

اٰمِین بِجَاہِ النَّبِیِّ الْاَمِین صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

قلب میں عشقِ آل رکھا ہے — خوب اس کو سنبھال رکھا ہے
کیوں جہنم میں جاؤں سینے میں — عشقِ اصحاب و آل رکھا ہے

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب — صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د قرآنِ کريم نه د اهل بيتو د فضيلت ثبوت

الله پاک په سِيپاره 22 سورۃُالاحزاب، آيت 33 کښې ارشاد فرمائي:

| | |
|---|---|
| اِنَّمَا یُرِیْدُ اللّٰهُ لِیُذْهِبَ عَنْكُمُ الرِّجْسَ اَهْلَ الْبَیْتِ وَ یُطَهِّرَكُمْ تَطْهِیْرًا ﴿۳۳﴾ | [مَفهُوم] ترجمۂ کنزُالایمان : الله خو هم دا غواړي چې اے د نبي د کور کسانو چې تاسو نه هره ناپاکي لرې کړي او تاسو ښه پاک او صفا کړي- |

## د اهلِ بيت نه مراد څوک دي؟

”خزائن العرفان“ کښې د دې آيتِ کريمه په تفسير کښې دي چې په اهلِ بيتو کښې د نبي کريم صَلَّى الله عَلَيهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ازواجِ مطهرات (يعني پاکې بيبيانې) او خاتونِ جنّت حضرت فاطمه الزهرا رَضِىَ اللهُ تَعَالٰى عَنهُنّ او عليّ المُرتَضٰي، حسنَين کرِيمَين (يعني امام حسن و امام حسين) رَضِىَ اللهُ تَعَالٰى عَنهُم ټول داخل دي- د آيتونو او حدِيثونو نه هُم دغه نتيجه اَخَذ کيږي- (خزائن العرفان ص۶۸۰)

**امام طبري** رَحمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيه د دې آيت مقدسه په تفسير کښې فرمائي: يعني اے آلِ **محمد** صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! **الله** پاک دا خوښوي چې ستاسو نه بدې خبرې او فُحش (يعني ګنده) څيزونه لرې کړي او تاسو د ګناهونو د خِيرِې نه پاک او صفا کړي- (تفسير طبري ج۱۰ص۲۹۶)

اُن کی پاکی کا خدائے پاک کرتا ہے بیاں
آیۂ تطہیر سے ظاہر ہے شانِ اہلِ بیت

(ذوقِ نعت ص ۱۰۰)

## شانِ اهلِ بيت

**حضرت** علامه سيّد **محمد** نعيم الدّين مراد آبادي رَحمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيه فرمائي: دا آيتِ کريمه د اهلِ بيتو د فضائلو مَنبَع (يعني سَرچشمه) ده، د دې نه د دوئي بُلند مقام او لوئ شان ظاهرِيږي او معلوميږي چې ټول بد اخلاق او اَحوالِ مذمُومه (يعني بدو احوالو) نه د دوئي تطهِير (يعني پاکي) فرمائيلے شوې ده- په بعضې احاديثو کښې دي چې اهلِ بيت رَضِىَ اللهُ تَعَالٰى عَنهُم، په اور حرام دي او هم

دا د دې آیت فائده او ثمره ده، او کوم څيز چې د هغوئي د احوالِ شرِیفه سره لائق نه وي د هغې نه پروَردګار هغوئي محفوظ او بچ ساتي- (سوانح کربلا ص ۸۲)

**عظیم** عاشق صحابه و اهل بیت، امام اهل سنت مولانا شاه احمد رضا خان رحمۃُ اللہِ تَعالٰی علَیه "حدائق بخشش" کښې د اهلِ بیتو په شان کښې فرمائي:

پارَہائے صُحُف غُنچہائے قُدس　　　اہلِ بیتِ نبوت پہ لاکھوں سلام

آبِ تطہیر سے جس میں پودے جمے　　　اُس ریاضِ نَجابَت پہ لاکھوں سلام

خُونِ خیرُ الرُّسُل ؐ سے ہے جن کا خمیر

اُن کی بے لوث طِینَت پہ لاکھوں سلام

الفاظ و معاني:**پاره**: ټکړه- **صُحف**: د صحیفے جمع، مقدس کتاب- **قُدس**: پاک- **آبِ تطهیر**: مبارکي اوبه- **ریاض**: باغ- **نجابت**: اعلي خاندان، یا نسل والا- **خمیر**: اصل فطرت- **بےلوث**: خالص- **طینت**: طبعیت

شرحِ کلامِ رضا: د **الله** پاک د خوږ نبي صلَّی اللہ علَیهِ واٰلهٖ وسلَّم پاکه کورنۍ یعني خاندان د مقدّسو کتابونو بیَلې بیَلې مختلفې حصّې او مبارک ګلونه دي، کوم چې په پاکو او بابرکته اوبو باندې سَیرابه شوي دي، داسې ده چې دا ټول یو ښکلے زړه راښکونکے او ښائسته باغ دے، په دې شرافت والا او بهترینه خاندان باندې دِ په لکونو سلام وي چې په دې خاندان عالي شان کښې د رسول الله صلَّی اللہ علَیهِ واٰلهٖ وسلَّم وینه مبارکه شامله ده په دې مخلصه او پاکو عظیمو طبعیتونو والا خلقو دِ په لکونو سلام وي-

## پاکې بيبياني په اهلِ بيت کښې داخلې دي

**اے عاشقانِ صحابه و اهل بيت!** په اهلِ بيت کښې د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ټول اولاد او ازواجِ مطهّرات (يعني پاکې بيبيانې) هم شاملې دي- حضرت مفتي احمد يار خان رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه فرمائي: خيال ساتئ چې د پاکو بيبيانو اهلِ بيت کيدل د قرآنِ پاک نه ثابت دي- (مِرْاٰةُ المناجيح ج۸ ص۴۵۰)

اہلِ اسلام کی مادرانِ شفیق بانُوانِ طَہارت پہ لاکھوں سلام

(حدائقِ بخشش ص۳۱۰)

**الفاظ و معاني: اهل اسلام:** مسلمان- **مادران:** د مادر جمع يعني موريانې- **شفيق:** مهربانه- **بانو:** عزت داره ښځه- **طهارت:** پاکيزګي-

**د کلامِ رضا شرح:** د الله پاک د آخري نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عزت داره، پاکې بيبيانې د ټولو مسلمانانو مهربانه موريانې دي، په هغوئي دِ لکونه سلامونه وي-

هره زوجهٔ نبي جَنَّتي جَنَّتي تولې صحابياتې هُم جَنَّتي جَنَّتي

## د بي بي عائشه ايمان افروزه حکايت

**د ټولو** مسلمانانو مور جانه! صحابيّه بِنتِ صحابي، طيّبه، طاهِره، عابِده، (يعني عبادت ګزاره) زاهِده، (يعني د دنيا نه بےرغبته)، مُجتهِده (يعني ډيره لويه عالِمَه) حضرت بي بي عائشه صدّيقه رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهَا باندې يو ځل د وِيَرې غَلَبه وه، ژړل ئې، چې صحابي ابن صحابي، حضرت عبدالله بن عباس رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُمَا راغے او عرض ئې اوکړو: تاسو ته دِ مبارکي وي! خوشحاله شئ! په الله مې

دِ قسم وي! ما د رسول اللّٰه صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم نه دا فرمان اوریدلے دے چې ”عائِشه“ جنّتي ده- دا ئې واوریدل نو د امّتیانو مور حضرت عائشه صدیقه رضی اللّٰہ تعالٰی عنہا ارشاد اوفرمائیلو: **فَرَّجْتَ عَنِّي فَرَّجَ اللّٰهُ عَنْكَ** یعني تا زما غم لرې کړو **اللّٰه** پاک دِ ستا غم لرې کړي- (فتاوي رضویه ج۳۰ ص۲۸۳ بتغییر)(مسند ابي حنیفه ص۲۱۷ ملخصاً)

**حضرت** علامه علي قاري رحمۃ اللّٰہ تعالٰی علیہ د حدیثِ پاک په دې حصه کښې چې ” **عائِشه جنتي ده** “ فرمائي: په دې خبره کښې هیڅ شک نشته چې حضرت عائشه صدیقه رضی اللّٰہ تعالٰی عنہا به په جنت کښې د حضور نبي اکرم صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم سره په اوچتو درجو کښې وي- (شرح مسند ابي حنیفه ص۲۱۷)

بِنتِ صِدّیق آرامِ جانِ نبی اُس حَرِیمِ براءَت پہ لاکھوں سلام
یعنی ہے سورۂ نُور جن کی گواہ اُن کی پُر نور صورت پہ لاکھوں سلام

(حدائقِ بخشش ص۳۱۱)

الفاظ و معاني: **بنت صدیق**: حضرت عائِشه صدیقه رضی اللّٰہ تعالٰی عنہا-**حریم**: بنځه ،کور وداني- **بَراءَت**: د تُهمت نه پاکوالے

**د کلامِ رضا شرح**: صحابي ابن صحابي، د مسلمانانو اَوَلَني خلیفه حضرت ابو بکر صدیق رضی اللّٰہ تعالٰی عنہ ګرانه لور او د ټولو مسلمانانو مور حضرت بي بي عائشه صدیقه رضی اللّٰہ تعالٰی عنہا د **اللّٰه** پاک د خوږ پیغمبر صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د زړه سکون او قرار دے، په هغې بَاپرده او بَاحَیَا پاکې بي بي باندې دِ لکونه سلامونه وی، هغوئې داسې بَاحَیا و پاکیزه زنانه وه چې د هغوئې د عظمت او

پاکوالي بيان په قرآن کريم شوے دے، د هغوئي په نوراني مخ دِ لکونه سلامونه وي۔

## د عاشقَ اکبر د اهلِ بيتو سره مينه

د صحابي ابن صحابي حضرت ابوبکر صديق رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ په وړانديږ يو ځل د اهل بيتو ذکر اوکړے شو نو هغوئي اوفرمائيل: په هغه ذات مې دِ قسم وي د چا په قبضه کښې چې زما ساه ده! د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم قرابت دارو (يعني رشته دارو) سره ښه سُلوک کول ماته د خپلو قرابت دارو سره صِله رَحمي کولو نه زيات خوښ دي۔ (بخاري ج۲ص۵۳۸ حديث ۳۷۱۲)

يو ځل حضرتِ سَيِّدُنا ابوبکر صِدّيقِ رَضِیَ اللهُ عَنْهُ اوفرمائيل: ”د رسولِ اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د هغوئي د اهلِ بيت په باره کښې لحاظ اوساتئ۔“ (بُخاری ج۲ص۴۳۸ حديث ۳۷۱۳) مُراد دا دے چې د هغوئي د حقوقو او مرتبو لحاظ ساتئ۔
(نُزهَةُ القاری ج۴ ص ۶۰۵)

## صديق اکبر به تعظيماً اودريدو

د الله پاک د آخري نبي ، مُحَمَّدِ عَرَبِی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خوږ کاکاجان حضرت عباس رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ (ولے چې د اهل بيت نه وو هغوئي) به چې په بارګاهِ رسالت کښې حاضريدلو نو حضرت ابوبکر صديق رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ به احتراماً د هغوئي د پاره اودريدلو او خپل ځائے به ئې هغوئي ته پريښودو۔ (معجم کبير ج۱۰ ص ۲۸۵ حديث ۱۰۶۷۵) د الله پاک دِ په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په خاطر دِ زمونږه بے حِسابه بخښنه اوشي۔ اٰمِين بِجَاهِ النَّبِيِّ الْاَمِين صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د حَسنَین کرِیمَین په خوشحالئ کنبې

### د فاروقِ اعظم خوشحالي! (حکایت)

د خاندانِ اهل بیت ځلیدُونکے ستورے، حضرت امام جعفر صادق رَحْمَةُاللهِتَعَالٰیعَلَیْه د خپل والدِ محترم، تابعي بزرګ حضرت امام محمد باقر رَحْمَةُاللهِتَعَالٰی عَلَیْه نه روایت کوي چې د امیر المُؤمنین حضرت عمر فاروق رَضِیَاللهُتَعَالٰیعَنْهُ په برکاه کنبې د یَمن نه بهترینې کپړے راغلې نو هغوئ هغه کپړے په مُهاجرِینو او انصارُو (صحابه کرامو) باندې تقسیم کړې- خلقو چې هغه کپړے واغوښتلې نو ډیره خوشحالي ئې محسُوسوله، هغوئ (یعني حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَاللهُعَنْهُ) د منبرِ رسول او قبر مبارک تر مینځه ناست وو، خلق د هغوئ په خدمت کنبې حاضریدل سلام به ئې عرض کولو او دعا به ئې کوله- سَمدَستي د هغوئ په وړاندې د جنتیانو ځلمو سرداران، حسنین کریمین یعني امام حسن و امام حسین رَضِیَاللهُتَعَالٰیعَنْهُمَا بهر ته تشریف راوړو، د دواړو شهزادګانو په مبارک بدن باندې د هغه ښو کپړو نه یوه کپړه هم نه وه- ځنګه چې دوئ رَضِیَاللهُتَعَالٰیعَنْهُ هغوئ رَضِیَاللهُتَعَالٰیعَنْهُمَا اولیدل نو په ډیر جلال کنبې (هغه خلقو ته چا چې ښې کپړے اغوستې وې او خوشحالیدل) ارشاد اوفرمائیلو: په الله مې دِ قسم وي! ما چې تاسو ته کومې قیمتي کپړے درکړي دي په هغې ما ته لږه خوشحالي هم نشته ټولو خلقو چې دا واوریدل نو پریشانه شو او عرض ئې اوکړو چې حضرت! داسې څه اوشو چې تاسو داسې ارشاد فرمائې؟ حالانکه دا ټولې کپړے خو تاسو پخپله مونږ ته راکړې دي- ارشاد ئې اوفرمائیلو: دا خبره زه د هغه دؤو شهزادګانو په وجه کووم، کوم چې د خلقو په مینځ کنبې په داسې

حالت کښي رَوَان دي چي په هغه دوارړو کښي يو هُم د دې قيمتي کپړو نه کپړے نه دي اغوستي- بيا فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ فوراً د يمن حاکم ته خط اوليکلو چي زر تر زره د امام حسن او امام حسين رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُمَا د پاره دوه بهترينې او قيمتي جوړے تياري کړه او را اُوئې ليږه- د يمن حاکم فوراً د حکم تعميل اوکړو او دوه [بهترينې او قيمتي] جوړے ئې تياري کړي او را اُوئې ليږلي- هغوئي حسنين کريمين رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُمَا ته هغه جامي واغوستلي او ارشاد ئي اوفرمائيلو: په **اللّٰه** پاک مي دِ قسم وي! تر څو پوري چي دي دوارړو نوي کپړے نه وې اغوستي، ما ته د نورو خلقود کپړو اغوستلو خوشحالي نه وه- په يو روايت کښي داسي دي چي حسنين کريمين رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُمَا کله کپړے واغوستلي نو اوئې فرمائيل: اوس زه خوشحاله شوم-

(ابن عساکر ج۱۴ ص۱۷۷، ریاض النضرۃ ج۱ ص۳۴۱) (فیضانِ فاروقِ اعظم ج۱ ص۳۸۹)

صحابہ اور اہلِ بیت کی دل میں محبت ہے
بفیضانِ رضا میں ہوں گدا فاروقِ اعظم کا

(وَسائلِ بخشش (مُرَمَّم) ص۵۲۶)

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د سورلئ نه به راکُوز شولو

د حضور نبي کريم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم خوږ کاکاجان حضرت عباس رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ به چي کله چرته پيدل روان وو او حضرت عمر فاروق و حضرت عثمان ذُوالنّورين رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُمَا به په سورلئ باندي سواره وو او د حضرت عباس رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ په خوا به تيريدل نو د تعظيم د پاره به د خپلي سورلئ نه راکوز

شول تر دي چې حضرت عباس رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ به د هغه ځائے نه تير شو-

(الاستیعاب ج۲ ص۳۶۰)

## په اُوګو به مو اوچت کړي (حکايت)

د ابو المُهزِّم بيان دے: يو ځل مونږ په جنازه کښې شريک شو، عظيم صحابي رسول حضرت ابوهريره رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ هم زمونږ سره وو، په واپسئ کښې د رسُول الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم نمسے حضرت امام حسين رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ ستړے شولو نو د آرام د پاره يو ځائے کښې کښيناستلو- حضرت ابوهريره رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ په خپل څادر باندې د امام حسين رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ د ښپو مبارکو نه ګرد (يعني خاورې دوړې) لرې کول شروع کړل نو امام حسين رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ منع کړو- په دې باندې حضرت ابوهريره رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ عرض اوکړو: په الله مې دِ قسم وي! چې ستاسو عَظمت چې څومره ما ته معلوم دے که خلقو ته معلوم شي نو هغوئي به تاسو په (زمکه تللو ته پرينږدي بلکه) په اُوګُو به مو اوچت کړي-

(طبقاتِ ابن سعد ج۶ ص۴۰۸)

چل گئی بادِ مخالف اَلغیاث     اے حُسینِ باوفا فریاد ہے

حال ہے بے حال شاہِ کربلا

آپ کے عطار کا فریاد ہے

(وسائلِ بخشش ص۵۸۸)

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب     صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د سخَرَګنۍ له طرفه د خپلوانو شان

**حضرتِ** هِند بن ابي هالَه کوم چې د د دواړو جهانو د شهزادګۍ حضرت بي بي فاطمه الزهرا رضی اللہ تعالٰی عنہا آخیافي ورُور دے (اخیافي یعني هغه ورُور چې پلار ئې بیل وي او مور ئې یوه وي) روایت کوي چې د **الله** پاک خوږ رسول صلَّی اللہ علیہ واٰلہ وسلَّم ارشاد اوفرمائیلو: بےشکه **الله** پاک زما د پاره نه دي خوښ کړي چې زه نکاح اوکړم د داسې ښځې سره یا د خپل خاندان د یوے زنانه نکاح اوکړم د یو داسې سړي سره چې هغه جنّتي نه وي- (ابن عساکر ج۱۹ص۱۴۹)

حضرت علامه عبدالرءوف مناوِي رحمۃُ اللہ تعالٰی علیہ لیکي: د دې حدیث پاک مطلب دا دے چې زه د داسې سخَرَاني د خپلوۍ نه منع کړے شوے یم چې د چا خاتمه به جَهنَّم ته تللو والا اعمالو باندې کیږي، نور فرمائي: دا حدیثِ پاک د حضور صلَّی اللہ علیہ واٰلہ وسلَّم د سخَرَاني د خپلوانو د پاره ډیره لویه خوشخبري ده- (فیض القدیر ج۲ص۲۵۱)

**اے عاشقان صحابه و اهل بیت!** د دې روایت نه کوم څائے چې د حضرت ابوبکر صدیق، حضرت عمر فاروق اعظم، حضرت عثمان غني ابن عفان او مولٰي علي رضی اللہ تعالٰی عنہم شان معلومیږي هم هلته پکښې د حضرت ابو سُفیان رضی اللہ تعالٰی عنہ د پاره هم د جنت خوشخبري ده، څکه چې دا ټول صاحبان د صحابي کیدلو سره سره د خوږ آقا صلَّی اللہ علیہ واٰلہ وسلَّم دسخَراني خپلوان هُم دي [یعني په دوئي کښې بعضې د حُضُور صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم سخران دي او بعضو ته دا سعادت حاصل دے چې د هغوئي سخر پخپله حُضُور صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دے]-

| | | | |
|---|---|---|---|
| ھر صحابيِ نبي! | جَنَّتي جَنَّتي | تولي صحابياتي ھُم! | جَنَّتي جَنَّتي |
| څلور یاران د نبي! | جَنَّتي جَنَّتي | حضرتِ قاسِم ھُم! | جَنَّتي جَنَّتي |
| او عمر فاروقِ ھُم! | جَنَّتي جَنَّتي | عُثمان غني! | جَنَّتي جَنَّتي |
| فاطِمه او علي! | جَنَّتي جَنَّتي | حسن او حُسین ھُم! | جَنَّتي جَنَّتي |
| والدین د نبي! | جَنَّتي جَنَّتي | ھره زوجۀ نبي! | جَنَّتي جَنَّتي |
| او اَبُو سُفیان ھُم! | جَنَّتي جَنَّتي | او مُعاوِیه ھُم! | جَنَّتي جَنَّتي |

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د صحابه او اھلِ بیتو سره د مینې بدله (حکایت)

حضرتِ بِشر حافي رَحْمَۃُ اللہِ تَعَالٰی عَلَیْہ فرمائي: د اللّٰه پاک خوږ نبي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په خوب کښې تشریف راوړو او ما ته ئي اوفرمائیل: اے بِشر! آیا تا ته پته ده چې اللّٰه پاک تا له د زمانے په اولیاء کښې اوچت مقام ولے درکړے دے؟ ما عرض اوکړو: یارسول اللّٰه صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم! ماته پته نشته- نو خوږ پیغمبر صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ارشاد اوفرمائیل: " ته زما په سُنَّتو عمل کوے او د نیکانو خلقو خدمت کوے، او د خپلو مسلمانانو وروڼړو خیر خواھي کوے (یعني ھغوئي ته نصیحت کوے) او زما صحابه و اھلِ بیتو رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْھُم سره مینه کوے- ھم دا سبب دے کوم چې ته د نیکانو خلقو منزل ته رسولے ئي-" (رساله قشیریه ص۳۱) د اللّٰه پاک دِ په ھغوئي رحمت وي او د ھغوئي په خاطر دِ زمونږه بے حِسابه بخښنه اوشي. اٰمِین بِجَاہِ النَّبِیِّ الْاَمِین صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

شکریہ تم نے آل کا صدقہ میری جھولی میں ڈال رکھا ہے

(وسائلِ بخشش ص ۴۴۴)

## اعلٰي حضرت به سيّدانو ته دوه چنده ورکول

اعلٰي حضرت، امام اهلِ سنت، امام احمد رضاخان عَلَيهِ رَحمَةُ الرَّحْمٰن به د ساداتِ کرامو ډير زيات خيال ساتلو، دومره پورې چې کله به ئې څه څيز تقسيمولو نو تولو له به ئې يو يو او ساداتو له به ئې دوه دوه ورکول- (حياتِ اعلٰي حضرت ج١ص١٨٢ملخصاً)

حُبِّ سادات اے خُدا دے
واسطہ اہلِ بَیت کا فریاد ہے (وسائلِ بخشش)

## ساداتِ کرام له خصوصاً د قربانۍ غوښه ورکول

اعلٰي حضرت رَحمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰی عَلَيه د خپل ځان په باره کښې فرمائي: د فقير دا معمُول دے چې قرباني هر کال د خپل والدِ ماجِد رَحمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰی عَلَيه له طرفه [هُم] کووم او د هغي ټوله غوښه صدقه کوم او يوه قرباني د حضور اقدس صَلَّی اللّٰه عَلَيهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم له طرفه کووم او د هغي غوښه ټوله ساداتِ کرامو ته ورکووم- تَقَبَّلَ اللّٰهُ تَعَالٰي مِنِّيْ وَ مِنَ الْمُسْلِمِيْنَ، (يعني الله پاک دِ ئې زما او د ټولو مسلمانانو له طرفه قبوله کړي، امين-) (فتاوي رضويه ج٢٠ص١٥٦)

دو جہاں میں خادمِ آلِ رَسُولُ اللہ کر
حضرتِ آلِ رَسُولِ مُقتدا کے واسطے
(حدائقِ بخشش ص١٥١)

## د عطّار عرض

اے مالدارو! دُکاندارو! ډاکټرانو! د خپل خپل طاقت مطابق د آلِ رسول يعني سادات کرامو عَلَيهِمُ الرِّضوَان خدمت اوکړئ او د هغوئي د نيکه مبارک رحمتِ

عالم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَالِهٖ وَسَلَّم زړه ته راحت ورکړئ او د جنت په باغونو کښې ځان د پاره د محل حاصلولو اسباب پيدا کړئ، کاش چې! هر دکاندار دا ذهن جوړ کړي چې زه به ساداتِ کرامو عَلَيْهِمُ الرِّضْوَان ته سودا مفت يا کم از کم په خپل قيمت ورکووم- يقيناً په دې طريقه به هم ډېره همدَردِي او خير خواهِي کيږي، کاش! چې هر ډاکټر دا ذهن جوړ کړي چې زه به د ساداتِ کرامو عَلَيْهِمُ الرِّضْوَان " چيک اپ " مفت کووم او که کيدے شي نو دوائي به هم ورته فري پيش کووم او د آلِ رسول زړه به خوشحالوم-

د رمضان المُبارک په برکتي مياشت کښې په خپل ګاونډ کښې اوسِيدونکو ساداتِ کرام له روژه ماتے او پيشمنے، او د قربانۍ په ورځو کښې په کور کښې پخِيدُونکي مزيدار سالن نه څه نه څه د هغوئي کور ته په ادب او احترام سره ليږئ، خومره ناداني ده چې د چا د نيکه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَالِهٖ وَسَلَّم په خاطر مونږ ته نعمتونه ميلاويږي د هغوئي نمَسِي زمونږه د سهولتونو نه لږه فائده هم وانخلي- نن خپل مال، خپل دولت، خپل خوښ څيزونه د ساداتِ کرامو عَلَيْهِمُ الرِّضْوَان په قدمونو قُربان کړئ- بيا ګورئ چې د دوئي نيکه مبارک صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَالِهٖ وَسَلَّم تاسو په ورځ د قيامت څنګه مالا مال کوي، په **الله** پاک مې دِ قسم وي! هغه وخت به نه مال پکار راځي او نه به عُهده و منصب څوک د عذاب نه بچ کړي، په هغه وخت کښې به د ناقراره زړونو قرار، د حسنينو د نيکه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَالِهٖ وَسَلَّم شفاعت پکار راځي- که په دنيا کښې مو د هغوئي اولاد سره ښه سلوک کړے وي، که د يو بيمار سيّد علاج مو کړے وي نو هيڅ عجبه نه ده

چې دا سیّد به د خپل نیکه په بارګاه کښې عرض اوکړي او زمونږ د شفاعت ذریعه به جوړه شي- خو یاد ساتئ! صرف د **الله** پاک د رضا په نیت خدمت اوکړئ، باقي د هغه کرم بےحده او بےانتها دے- او په خپل زړه کښې داسې وَسوَسه بالکل مه راولئ چې پته نشته چې دا سیّد دے او که نه؟ مونږ ته د دې خبرې بالکل اجازت نشته چې مونږ د نسب په لټون پسې اولګو، بس زمونږ د پاره د هغوئي سیّد مشهور کیدل کافي دي-

## د سیّد کیدلو ثبوت طلب کول څنګه دي؟

اعلیٰ حضرت رحمۃ اللہ تعالٰی علیہ فرمائي: فقیر ډیر کَرَته فتوٰی ورکړې ده چې څوک سیّد ګڼړل او د هغه د تعظیم کولو د پاره زمونږه ذاتي عِلم (یعني تحقیق) سره د هغه سیّد معلومول ضروري نه دي، او نه د سیّد کیدلو سَنَد غوښتلو مونږ ته حکم شوے دے او زور او زبردستئ سره په سَنَد ښودلو مجبوره کول او که او نه ښائي نو ورته بَد وَئیل، پیغور وَرکول هیڅ کله هم جائز نه دي- اَلنَّاسُ اُمَنَاءُ عَلٰی اَنْسَابِہِمْ (یعني خلق په خپل نسب باندې امین دي)- خو که د چا نسبت مونږ ته ښه صحیح معلوم وي چې دا سیّد نه دے او هغه ځان "سیّد جوړ کړي" نو مونږ به د هغه نه تعظیم کوو او نه به ورته سیّد وایُو او مناسب به وي چې ناواقفه خلق د هغه د دهوکے نه خبر کړو (اعلیٰ حضرت رحمۃ اللہ تعالٰی علیہ نور فرمائي:) زما په خیال (یعني یاد داشت) کښې یو حکایت دے چې په هغې باندې زما عمل دے چې یو کس د یو سیّد سره اونښتو، هغوئي ورته اُوفرمائیل: زه سیّد یم، هغه ورته اووئیل: څه سَنَد لرې چې ته سیّد ئې؟ د شپې

(د حضور اقدس صَلَّی اللہ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم) د زيارت نه مشرّفه شو چې قيامت دے، او دے د شفاعت طلبګار شو ، حضور صَلَّی اللہ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ترينه مخ مبارک واړولو- هغه عرض اوکړو: زه هم ستاسو صَلَّی اللہ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اُمّتي يم- اوئې فرمائيل: څه سَنَد لرې چې ته زما اُمّتي ئې؟ (فتاوي رضويه ج۲۹ ص۵۸۷)

**خوږو خوږو اسلامي ورونړو!** د عاشقان رسول ديني تحريک، " **دعوت اسلامي** " په ښکلي ماحول کښې د اوسيدلو په بَرَکت په زړه کښې د صحابه کرامو او اهل بيت اطهارو عَلَیۡهِمُ الرِّضۡوَان مينه ډيره زياتيږي، د دعوتِ اسلامي په مختلفو اجتماعاتو کښې چې کوم ځائے د صحابه کرامو رَضِیَ اللہ تَعَالٰی عَنۡهُم فضائل بيانيږي هم هلته د اهلِ بيت اطهارو عَلَیۡهِمُ الرِّضۡوَان د مبارک سيرت بيانولو په ذريعه هُم رڼرا حاصليږي،" شجرهٔ قادريه رضويه " کښې موجود يو شعر د اهل بيتو په مينه باندې واورئ او که تر اوسه پورې نه ئې شوي نو د غلامانِ صحابه و اهلِ بيت ديني تحريک " دعوت اسلامي " سره په ديني ماحول کښې وابسته هُم شئ!

دو جہاں میں خادمِ آلِ رَسولُ اللہ کر
حضرتِ آلِ رَسولِ مُقتدا کے واسطے
(حدائقِ بخشش ص ۱۵۱)

په دې شعر کښې د شجرهٔ عاليه قادريه رضويه د اُووه ديرشَم شيخ طريقت يعني حضرت سيّد آلِ رسول رَحۡمَۃُ اللہِ تَعَالٰی عَلَیۡه په وسِيله باندې د اهلِ بيتو د خادم

جوړېدلو د سعادت حاصلیدلو دعا غوښتے شوي ده- (شرح شجرہ شریف ص۱۱۶) د الله پاک دِ په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په خاطر دِ زمونږه بے حِسابه بخښنه اوشي. اٰمِین بِجَاہِ النَّبِیِّ الْاَمِین صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د سیدانو ادب کوئ

حضرت علی خواص رَحۡمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیۡہ فرمائی: بعضې اهلِ علم تر دې پورې فرمائیلي دي چې سادات کرام که هر څومره د نبي کریم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په نَسَب کښې لرې وي، د هغوئي په مونږه باندې حق دے چې په خپلو خواهِشاتو باندې د هغوئي رضا ته ترجیح ورکړو او د هغوئي ډېر تعظیم اوکړو او چې کله دا صاحِبان په زمکه تشریف فرما وي نو اُوچت (یعني په کرسئ یا صوفه وغیره) باندې مه کښېنئ- (نورالابصار ص۲۴۹)

تیری نسلِ پاک میں ہے بچہ بچہ نُور کا
تُو ہے عینِ نُور تیرا سارا گھرانا نُور کا
(حدائقِ بخشش ص ۲۴۶)

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د خلوېښتو حدیثونو رَسَوَلو فضِیلت

**د الله پاک د آخري نبي مُحَمَّدِ عَرَبِی** صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: څوک چې زما امت ته رَسَوَلو د پاره "**خلوېښت حدیثونه**" یاد کړي نو هغه به

اللہ پاک په ورځ د قیامت د عالِمِ دين په حيثيت سره راپاڅَوِي او په ورځ د قيامت به زه د هغه شفيع او ګواه يم-“ (شعب الایمان ج۲ ص۲۷۰ حدیث۱۷۲۶)

حضرت شيخ عبدالحق محدّث دهلوي رحمۃ اللہ تعالٰی علیہ فرمائي: د دې نه مراد څلويښت حديثونه خلقو ته رَسَوَل دي اګر که هغه ته ياد نه وي- (اشعة اللمعات ج۱ ص۱۸۶) اَلْحَمْدُ لِلّٰه! په حديثِ پاک کښې بيان شوے فضيلت به هغه چا ته هم حاصل وي چې څوک ئې چاپ کړي يا ئې په کتلو بيان کړي يا په بله څه ذريعه خلقو ته څلويښت حديثونه اُورَسوِي لِـهذا د دې فضيلت حاصلولو په نيت باندې د **فضائلِ اهلِ بيت** متعلق ”څلويښت فرامينِ مصطفي صلّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلّم“ تحريراً پيش کولے کيږي:

## د فضائلِ اهلِ بيت په باره کښې څلويښت حديثونه

﴿۱﴾ خپل اولاد ته درې خبرې زده کړئ: د خپل نبي مينه، د اهلِ بيتو محبت، او تلاوتِ قرآنِ پاک- (الجامع الصغیر ص۲۵ حدیث۳۱۱)

## اهلِ بيت د نوح علیہ السّلام د کشتئ په شان دي

﴿۲﴾ زما د اهل بيتو مثال د نُوح د کشتئ په شان دے، څوک چې په دې کښې سور شو هغه نجات حاصل کړو او څوک چې د دې نه پاتې شو هلاک (برباد) شو- (المُستدرک ج۳ ص۸۱ حدیث ۳۳۶۵)

# اهلِ بیت کشتئ او صحابه کرام ستوري

حضرت مفتي احمد یار خان رَحْمَۃُاللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ فرمائي: د سمندر مسافر د کشتئ هم حاجتمند وي او د ستورو د رهنمائي هم، ځکه چې جهازونه د ستورو په رهنمائي سره په سمندر کښې سفر کوي، دغه شان امّت مسلمه په خپل ایماني ژوند کښې د اهلِ بیتو هم مُحتاجه دي او د صحابوو هم محتاجه دي۔ د امّت د پاره د صحابه کرامو رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُم اقتدا (یعني پیروي) کولو کښې هدایت دے۔ (مراۃالمناجیح ج۸ ص۳۴۵) مفتي صاحب رَحْمَۃُاللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ په یو بل مقام کښې فرمائي: دنیا په مثل د سمندر ده په دې کښې د سفر کولو د پاره د جهاز دسورلئ او د ستورو د رهبرئ دواړو ضرورت دے۔ اَلْحَمْدُ لِلّٰہ! د اهلِ سُنَّت بیړئ پورې وتلې ده ځکه چې دوئي د اهلِ بیتو او صحابه کرامو عَلَیْہِمُ الرِّضْوَان دواړو قدمونو سره وابسته دي (مراۃالمناجیح ج۸ ص۴۹۴)

اہلِ سنت کا ہے بیڑا پار اصحابِ حُضُور
نجم ہیں اور ناؤ ہے عِترت رسول اللہ کی

(حدائقِ بخشش ص ۱۵۳)

**الفاظ و معاني:** بیڑا: بحري جهاز یا کشتئ۔ نجم: ستوري۔ ناؤ: کشتئ۔ عِترت: اهلِ بیتِ اطهار۔

د کلامِ رضا شرح: اَلْحَمْدُ لِلّٰہ! د اهلِ سنت په دنیا او آخرت دواړو کښې بیړئ پورې وتلې ده ځکه چې دوئي صحابه و اهل بیت عَلَیْہِمُ الرِّضْوَان دواړو سره مینه لري او د هغوئي منونکي دي سُنیان د اهلِ بیتو په کشتئ کښې سواره دي او د سُنیانو رهنما صحابه کرام رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُم "ستوري" دي نو اِنْ شَآءَاللّٰہ د

سُنیّانو بیرېٔ پورې وتلي ده او دوئي به د **اللّٰه** پاک آخري خوږ نبي **مُحَمَّدِ عَرَبِی** صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پسې وروستو وروستو جنّتُ الفِردَوس ته ځي۔

باغ جنت میں محمد مسکراتے جائیں گے
پھول رحمت کے جھڑیں گے ہم اُٹھاتے جائیں گے

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب　　صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## آلِ فاطمه د دوزخ نه محفوظ دی

﴿۳﴾ اے فاطمه! بےشکه اللّٰه پاک به تا ته او ستا اولاد ته عذاب نه ورکوي۔ (معجم کبیر ج۱۱ص۲۱۰ حدیث ۱۱۶۸۵)

﴿۴﴾ کوم کس چې وسیله حاصِلوَل غواړي او دا غواړي چې زما په بارګاه کښې هغه څه خدمت اوکړي، چې د هغې په سبب زه د قیامت په ورځ د هغه شفاعت اوکړم نو هغه له پکار دي چې زما د اهل بیتو خدمت اوکړي او هغوئي خوشحاله ساتي۔ (الشرف المؤبد للنبهاني ص۵۴)

﴿۵﴾ بے شکه زما د پاره او زما د اهلِ بیتو د پاره د صدقے مال حلال نه دے۔ (مسند امام احمد بن حنبل ج۶ ص۲۰۶ حدیث ۱۷۶۷۹)

﴿۶﴾ ما د خپل رب نه سوال اوکړو چې زما د اهلِ بیتو نه څوک هُم دوزخ ته لاړ نه شي۔ هغه زما دا سوال قبول کړو۔ (کنزالعمال ج۱۲ص۴۴ حدیث ۳۴۱۴۴)

﴿۷﴾ زما شفاعت زما د امت د هغه کس د پاره دے څوک چې زما کورنۍ (یعني اهلِ بیت) سره مینه لري۔ (تاریخ بغداد ج۲ص۱۴۴)

## قرآنِ کریم او اهلِ بیت

﴿۸﴾ زه تاسو ته دوه عظیم (یعني لوئ) خیزونه پریږدم، په هغې کښې اَوَلَنے د **اللّٰه** پاک کتاب (یعني قرآن پاک) چې په دې کښې نُور او هدایت دے،

تاسو د **الله** پاک په کتاب (یعني قرآن پاک) باندې عمل کوئ او دا په مظبوطۍ سره اونیسئ دویم زما اهلِ بیت دي، او درې ځله ئې ارشاد اوفرمائیلو: زه د خپلو اهلِ بیتو په باره کښې تاسو ته **الله** پاک دریادووم۔

(مسلم ص۱۰۰۸ حدیث ۶۲۲۵)

امام شَرَفُ الدِّین حُسین بن محمد طِیّبي فرمائي: معني دا ده چې زه د خپلو اهلِ بیتو د شان په باره کښې تاسو ته د **الله** پاک وِیَرَه درکووم او تاسو ته وایم چې تاسو د **الله** پاک نه اُویَرِیږئ، دوئي ته تکلیف مه ورکوئ بلکه د دوئي حفاظت کوئ۔ (شرح الطیبي ج۱۱ ص۲۹۶ تحت الحدیث ۶۱۴) شجره قادریه رضویه کښې د **الله** پاک د مقبولو بندګانو یعني د سلسلهٔ عالیه قادریه رَضَوِیَّه خلور دیرشم او پینځه دیرشم (۳۴،۳۵) شیخ طریقت یعني د حضرت شاه ابو البرکات آلِ محمد او د حضرت شاه حمزه رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْهِمَا په وسیله باندې خومره په ښکلي انداز کښې په بارګاه الٰهي کښې د اهلِ بیتو د مینې سوال شوے دے۔ ے

حُبِّ اہلِ بیت دے آلِ محمد کے لئے
کر شہیدِ عشقِ حمزہ پیشوا کے واسطے

(حدائقِ بخشش ص ۱۵۰)

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## اهلِ بیتو سره مینه کوئ

﴿۹﴾ د **الله** پاک سره مینه کوئ ځکه چې هغه تاسو ته د خپل نعمت نه روزي درکوي، او د **الله** پاک د مینې (حاصلولو) د پاره زما سره مینه اوکړئ، او زما د مینې (حاصلولو) د پاره زما د اهلِ بیتو سره مینه اوکړئ۔

(ترمذي ج۵ ص۴۳۴ حدیث ۳۸۱۴)

## کامل مؤمن څوک؟

﴿۱۰﴾ تر هغه وخته پورې څوک هم کامل مؤمن نه شي کېدے تر څو پورې چې زه هغه ته د هغه د خپل ځان نه زيات محبوب [ګران] نه شم او زما اولاد هغه ته د خپل اولاد نه زيات محبوب نه شي- (شعب الایمان ج۲ ص۱۸۹ حدیث۱۵۰۵)

صحابہ کا گدا ہوں اور اہلِ بیت کا خادِم
یہ سب ہے آپ ہی کی تو عِنایت یا رسولَ اللہ
(وَسائلِ بخشش ص۳۲۰)

## د اهلِ بيتو سره مينه کوونکي ته به شفاعت حاصلېږي

﴿۱۱﴾ زمونږ د اهلِ بيتو مينه په ځان لازمه کړئ ځکه چې څوک د الله پاک سره په داسې حال کښې ملاؤ شو چې هغه مونږ سره مِينه کوي هغه به زما د شفاعت په سبب جنت ته داخِلَوِي او په هغه ذات مې دِ قسم وي! د چا په قبضهٔ قدرت کښې چې زما ساه ده! هر يو بنده ته به د هغه عمل صرف په هغه صورت کښې فائده ورکوي چې هغه زمونږه (يعني زما او زما د اهلِ بيت) حق اوپېژني- (معجم اوسط ج۱ ص۶۰۶ ص۲۲۳)

﴿۱۲﴾ په تاسو کښې بهتر کس هغه دے څوک چې زما نه پس زما د اهلِ بيتو د پاره بهتر وي- (المستدرک ج۴ ص۳۶۹ حدیث۴۵۱۰)

﴿۱۳﴾ د هغه خلقو څه حال دے چې دا ګمان کوي چې زما قرابت (يعني خپلوي) به هيڅ فائده نه ورکوي هر تعلق او خپلوي به په قيامت کښې ختمه شي خو زما خپلوي او تعلق به نه ختمِيږي ځکه چې دا په دنيا او آخرت کښې تړلې شوي ده- (معجم الزوائد ج۸ ص۳۹۸ حدیث۱۳۸۲۷)

## په آخري حج کښې ئې اوفرمائيل

﴿۱۴﴾ په (آخري) حَج کښې د عَرَفے په ورځ په خپله مبارکه اوښه قَصوَا باندې ئې خطبه کښې ارشاد اوفرمائيل: "اے خلقو! ما په تاسو کښې هغه څيز پرېښودو چې تر کومه پورې تاسو دا نيولے وي ګمراهه کيږئ به نه، د الله پاک کتاب (يعني قرآن پاک) او زما اهلِ بيت-" (ترمذي ج۵ ص ۴۳۳ حديث ۳۸۱۱)

## مددګار آقا

﴿۱۵﴾ څوک چې زما د اهلِ بيتو سره ښه سلوک کوي زه به په ورځ د قيامت د هغې بدله ورکووم- (تاريخ ابن عساکر ج۴۵ ص۳۰۳) حضرت علامه عبدالرءُوف مناوِي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه (وفات: ۱۰۳۱ھ : 1622ء) د دې حديث پاک په شرح کښې فرمائي: دا حديثِ پاک په دې خبره باندې دلالت کوي چې د الله پاک خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم (د الله پاک په عطا سره) عنايت (يعني ورکړه) کوونکے دے او دا خبره د چا نه څه پټه نه ده، لهٰذا هغه کس ته دِ مبارک شي چې د چا پريشاني هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم لرې کړي او د هغه په فرياد کولو باندې تشريف راوړي او د هغه حاجت او ضرورت پوره کړي-

(فيض القدير ج۶ ص ۲۲۳)

وَاللہ وہ سُن لیں گے، فریاد کو پہنچیں گے
اِتنا بھی تو ہو کوئی، جو آہ! کرے دِل سے

(حدائقِ بخشش ص ۱۴۳)

## آقا صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به بَدله ورکوي

﴿۱۶﴾ کوم کس چې د عبدالمُطلب په اولاد کښې د چا سره په دنیا کښې ښه اوکړي، د هغې بدله ورکول په ما باندې لازم دي چې کله به هغه زما سره په ورځ د قيامت ملاويږي- (تاريخ بغداد ج۱۰ ص۱۰۲)

## د سيدانو د خدمت کولو ترغيب

زما آقا اعلٰي حضرت، امام اهل سنّت، امام احمد رضا خان عَلَيْهِ رَحْمَةُ الرَّحْمٰن په "فتاوي رضويه" کښې د دې حديث ليکلو نه پس فرمائي: اَللّٰهُ اَکبَر! اَللّٰهُ اَکبَر! د قيامت ورځ، هغه د قيامت ورځ، هغه د سخت ضرورت ورځ، د سخت حاجت ورځ، او زمونږ په شان مُحتاجه، او د صِله (يعني بدله) ورکولو د پاره د محمد صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په شان صاحِبُ التّاج، الله خبر دے چې څه څه به ورکوي او څنګه به ئې مالامال کوي، د هغوئې يو نظر کول د دوارو جهانو د ټولو مشکلاتو حل کولو د پاره بس دے، او پخپله دغه صِله د کروړونو صِلو نه اعلٰي او بهتره ده، د چا د پاره چې کلمهٔ کرِيمه (يعني مبارک الفاظ) "اِذَا لَقِيتَنِي" (يعني چې کله به په ورځ د قيامت زما سره ملاقات کوي) ارشاد فرمائي، په لفظ د "اِذَا" سره تعبير کول (يعني چې کله وئيل) بِحَمدِالله په ورځ د قيامت د ملاقات وعده او د ربِّ ذُوالجلال د محبوب صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د ديدار کولو زيرے اَوروِي (يعني د اِذا دا لفظ د سيدانو سره ښه سلوک کولو والؤ د پاره په ورځ د قيامت د حضور صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د ديدار او ملاقات کولو خوشخبري اَوروِي) مسلمانانو! نور څه غواړئ! منډې کړئ او دا دولت و سعادت تر لاسه کړئ- وَبِاللّٰهِ التَّوفِيق (يعني د الله پاک په توفيق سره)-

[اعلٰی حضرت رَحْمَةُاللهِعَلَيْه] په يوه بله موقع فرمائي: اَقُولُ (يعني زه اويم): كه لوئ لوئ مالداران خلق د خپل خالص مال نه د هِديه په طور د دې حضراتو عُليّا (يعني لوئے مرتبے والؤ) خدمت اونكړي نو د دې مالدارانو خپله بے سعادتي (او محرومي) ده، هغه وخت ياد كړئ چې د د دې حضراتو (يعني ساداتِ كرامو) د نيكه مبارك صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نه سِوا به ظاهري ستركو ته هُم بله څه پناه ګاه نه ملاويږي، آيا تاسو نه خوښوئ چه هغه مال چې د دوئي په صدقه هم د دوئي د سركار نه ملاؤ دے، چې ډير زر به دا مال پريږدئ او خالي لاسونه به قبر ته لاړ شئ، چې د هغوئي د خوشحالولو د پاره د هغوئي په مباركو نمسو (يعني سيدانو باندې) د مال څه حصه صرف كوئ چې په هغه سخته ورځ د هغه جَوَّادِ كريم، رَءُوفٌ رَّحِيم د ډيرو انعاماتو او عظيمو اكراماتو نه مشرفه شئ (فتاوي رضويه ج١٠ ص١٠٥)

## په اهلِ بيتو باندې ظلم كوونكي باندې جنت حرام

﴿١٧﴾ كوم كس چې زما په اهلِ بيتو باندې ظلم اوكړو او ما ته ئې زما د اولاد به باره كښې تكليف راكړو، په هغه باندې جَنَّت حرام كړے شو-

(الشرف المؤبد ص٩٩)

## په زړه كښې به ئې ايمان داخل نه شي

﴿١٨﴾ په هغه ذات مې دِ قسم وي د چا په قبضه كښې چې زما ساه ده! د هيڅ چا په زړه كښې به ايمان داخل نه شي (يعني كمالِ ايمان به ئې نصيب نه شي) تر دې چې د الله او رسول د پاره، "تاسو سره مينه اوكړي- "

(ترمذي ج٥ ص٤٢٢ حديث ٣٧٨٣)

حضرت مفتي احمد یار خان نعیمي رَحْمَۃُاللہِ تَعَالٰی عَلَیْہ د حدیث پاک د دې حِصَّے ”چې ستاسو سره مینه اوکړي“ په شرح کښې فرمائي: د دې نه مراد د حضور صَلَّی اللہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ټول اهلِ بیت دي، اولاد، ازواج (یعني پاکې بیبیانې) او د حضور صَلَّی اللہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ټول قرابت دار (یعني خپلوان) دي، چې په هغې کښې حضرت عباس رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ هم شامل دے- د دې ټولو سره مینه ځکه کوئ چې په هم دوئي کښې رسول الله صَلَّی اللہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم تشریف راوړو دا حضرات د حضور صَلَّی اللہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم کورنۍ (یعني خاندان) دے، چې حضور صَلَّی اللہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ګران او خوږ دے نو د حضور صَلَّی اللہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ټوله کورنۍ هُم ګرانه او خوږه ده- (مرآۃ ج۸ ص۴۷۰)

کس زباں سے ہو بیانِ عِزّ وشانِ اہلِ بَیت
مدح گوئے مُصطفےٰ ہے مدح خوانِ اہلِ بَیت

(ذوقِ نعت ص۱۰۰)

الفاظ و معاني: عِزّ: عظمت،- مدح ګو، مدح خوان: تعریف کوونکے

د کلامِ حسن شرح: اهلِ بیت یعني د حضور صَلَّی اللہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د ګلستان ځلیدونکو ګلونو عظمت و شان به څوک بیان کړي! حق خو دا دے چې د اهلبیتو تعریف کوونکے په حقیقت کښې د الله پاک د حبیب صَلَّی اللہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم تعریف کوي-

## د ”پنجتن پاک“ نه مراد څوک دی؟

﴿۱۹﴾ د ټولو اُمّتیانو مور حضرت بي بي عائشه رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہَا فرمائي: نبي کریم صَلَّی اللہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم یو سحر بهر ته تشریف یوړو او په بدن مبارک ئې د وړۍ رنګین تور څادر وو، حسن ابن علي رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُمَا راغلو، حضور هغه په

خادر کښې داخل کړو بیا حسین ابن علي رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْھُما راغلو هغه ئې هم په خادر کښې داخل کړو بیا حضرت فاطمةُ الزَّهرا رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْھَا راغله هغه ئې هم په خادر کښې داخله کړه بیا حضرت علي رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ راغلو او هغه ئې هم په خادر کښې داخل کړو بیا ئې دا آیت تلاوت کړو:

اِنَّمَا یُرِیْدُ اللّٰهُ لِیُذْهِبَ عَنْكُمُ الرِّجْسَ اَهْلَ الْبَیْتِ وَ یُطَهِّرَكُمْ تَطْهِیْرًا ﴿۳۳﴾ (پ۲۲،الاحزاب:۳۳)

[مَفھُوم] ترجمۂ کنزُالایمان: الله خو هم دا غواړي چې اے د نبي د کور کسانو چې تاسو نه هره ناپاکي لرې کړي او تاسو ښه پاک او صفا کړي۔

(مسلم ص ۱۰۱۳ حدیث ۶۲۶۱)

” مِرآت “ جلد 8 ص 452 کښې دي: په بعضې روایاتو کښې دي چې (ام المؤمنین) حضرت امّ سَلَمه رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْھَا حضور صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ته په دې موقع باندې عرض اوکړو: حضور صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم زه هم ستاسو اهلِ بیت کښې یم؟ نو حضور صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اوفرمائیل: ته هم اهلِ بیت کښې ئې! په بعضو روایاتو کښې دي چې حضور صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اُمّ سلمه هم په خادر کښې داخله کړه او بیا ئې دا دعا اوفرمائیله۔ خیال ساتئ! چې لفظ، پنجتن پاک (یعني پینځه پاک بدنونه) د دې حدیث نه اخستے شوے دے او دا واقعه ډیر ځله شوي ده، کله ئې اُمّ سلمه رَضِیَ اللّٰہُ عَنْھَا په خادر شریف کښې نه ده داخله کړې او کله ئې داخله کړې ده۔ (مرآۃ ج۸ ص ۴۵۲)

فضل کر رحم کر تُو عطا کر  اور معاف اے خُدا ہر خطا کر
واسطہ پنجتن پاک کا ہے یاخُدا تجھ سے میری دُعا ہے

(وَسائلِ بخشش ص ۱۳۵)

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب          صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

﴿۲۰﴾ څوک چې د اهلِ بیتو سره په دشمنۍ لرلو کښې مړ شو، هغه به په ورځ د قیامت په داسې حال کښې راځي چې د هغه په تندي به لیکلي شوي وي: "دا نن د الله پاک د رحمت نه مایوسه دے-" (تفسیر قرطبی ج۱۶ ص۱۷)

## قرآنِ کریم او اهلِ بیت

﴿۲۱﴾ زه په تاسو کښې دوه څیزونه پریږدَم که تاسو دا په مظبوطۍ سره اُونیسئ نو زما نه پس به نه ګمراه کیږئ، په هغې کښې یو څیز د بل نه لوئے دے، د الله پاک کتاب (یعني قرآن پاک) کوم چې د آسمان نه زمکې پورې اوګد پرے (رسئ) ده او زما عِترَت یعني زما اهلِ بیت، دا دواړه (یعني قرآن کریم و اهلِ بیت) به نه جدا کیږي هغه وخته پورې چې زما خوا ته حوض له راشي- نو غور اوکړئ! چې تاسو به دې دواړو سره زما نه پس څه معامله کوئ- (ترمذي ج۵ ص۴۳۳ حدیث ۳۸۱۳)

د حدیث شرح: د دې (حدیثِ پاک) دوه مطلبه کیدے شي: یو مطلب خو دادے چې قرآن و اهلِ بیت به د یو بل نه نه جدا کیږي، اهلِ بیت به همیشه په قرآن و حدیث باندې عمل کوونکي وي، قرآن به د هغوئ په زړه دماغو او عمل کښې وي- دویمه (معني) دا ده چې قرآن او اهلِ بیت به هیڅ کله هم زما نه نه جدا کیږي تر دې پورې چې دا دواړه به زما خواه له حوض ته راشي او د حضور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په بارګاه کښې به د هغه خلقو سفارش کوي چا چې د دې دواړو حق ادا کړو- (مراۃ ج۸ ص۴۶۸)

﴿۲۲﴾ څوک چې مونږ (يعني زما سره او اهل بيت) سره بُغض يا حَسد کوي، هغه به د قيامت په ورځ د حوضِ کوثر نه د اُور په چابَکُونو (يعني کوړو وهلو) لرې کولے کيږي- (معجم اوسط ج۲ ص۳۳ حديث ۲۴۰۵)

﴿۲۳﴾ په هغه ذات مې دِ قسم وي! د چا په قبضه کښې چې زما ساه ده، زمونږ د اهلِ بيتو سره بُغض ساتلو والا به **الله** پاک جَهنَّم ته داخلوي- (المُستدرک ج۴ ص۱۳۱ حديث ۴۷۷۱)

اور جتنے ہیں شہزادے اُس شاہ کے — اُن سب اہلِ مکانت پہ لاکھوں سلام
اُن کی بالا شرافت پہ اعلیٰ دُرُود — اُن کی والا سِیادَت پہ لاکھوں سلام
(حدائقِ بخشش ص ۳۱۴)

الفاظ و معاني: شهزادے: خوارِه ځامن- شاه: بادشاه- اهلِ مکانت: د اوچتې مرتبے والا- بالا: اوچت- شرافت: عزت و عظمت- والا سيادت: عظيمه سرداري-

شرحِ کلامِ رضا: د شهنشاه عرب و عَجَم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم چې څومره هُم خوارِه ځامن دي، په هغه ټولو لويه مرتبه لرونکو باندې لکونه سلامونه- د هغوئي په عظيم شرافت دِ د **الله** پاک رحمتونه وي او د هغوئي په لويه سردارئ دِ لکونو سلامونه وي-

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب — صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

﴿۲۴﴾ چا چې زما د اَهلِ بيتو سره بُغض اوساتلو هغه منافق دے- (فضائل الصحابه لامام احمد بن حنبل ج۲ ص۶۶۱ حديث ۱۱۲۶)

﴿۲۵﴾ اے بني هاشم! بے شکه ما ستاسو د پاره د **الله** پاک نه سوال اوکړو چې هغه تاسو بهادره دلير او رَحمِدله جوړ کړي او ما ترينه دا سوال اوکړو چې هغه ستاسو لاره هيروونکو ته سَمَه لار اوښائي او هغه تاسو ته ستاسو

د وِیرُووُنکو نه امن درکړي او هغه ستاسو اوږي ماړۀ کړي- په هغه ذات مي دِ قسم وي! د چا په قبضۀ قدرت کښي چې زما ساه ده! په هغوئي کښي څوک (کامِل) مؤمن نه شي کيدے تر دې چې هغه تاسو سره زما د مَحبَّت د وجهې نه مَحبَّت اوکړي- (معجم اوسط ج٨ ص ٣٤٣ حديث ٨٧٥٧)

﴿۲۶﴾ زه ستاسو نه د دوو څيزونو سُوال کووم د قرآنِ کريم او زما د آل (د عِزَّت و حُرمت)- (حلیةُ الاولیاء ج٩ ص ٦٤ حديث ١٣١٥٣)

﴿۲۷﴾ د ټولو نه مخکښي به زما حوض (يعني حوضِ کَوثر) ته راتلونکي زما اهلِ بيت وي- (السنة لابن ابي عاصم ص ١٦٤ حديث ٧٦٦)

﴿۲۸﴾ په تاسو کښي به په پل صراط باندې د ټولو نه زيات ثابت قدم هغه کس وي څوک چې به زما صحابه و اهلِ بيت عَلَيۡهِمُ الرِّضۡوَان سره مَحبَّت کوونکے وي- (جمع الجوامع ج١ ص ٨٦ حديث ٤٥٤)

حضرت علامه عبدالرّءُوف مناوِي رَحۡمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰی عَلَيۡه د دې حديث پاک په شرح کښي فرمائي: (دا فضيلت د هغه چا د پاره دے) د کوم مسلمان په زړه کښي چې د صحابه او اهلِ بيتو عَلَيۡهِمُ الرِّضۡوَان دواړو مينه وي او هم په دې حالت کښي وفات شو- نور فرمائي: دا مطلب هم کيدے شي چې د پُلِ صِراط نه مراد دينِ اسلام وي يعني په تاسو کښي دين باندې د ټولو نه ثابت قدم، کاملُ الايمان (يعني مکمل ايمان والا) به هغه څوک وي کوم چې د صحابه او اهلِ بيتو سره ډيره مينه لرونکے وي- لِـهذا د دې حديث پاک نه دا نتيجه اخذ شوه چې د صحابه و اهل بيتو سره مينه د کامل ايمان دليل دے او د دې ميني نه مراد داسې مينه ده کومه چې داسې څيز طرف ته بوتللو والا نه وي کوم چې په شريعت کښي منع وي (مثلاً د صحابه کرامو رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنۡهُم

په مینه کښې مَعَاذَالله د اهل بیتو په باره کښې د بدګمانۍ کولو یا د اهلِ بیتو په مینه کښې مَعَاذَالله د صحابه کرامو رضی اللہ تعالٰی عنہم په باره کښې د بدګمانۍ کولو هیڅ کله هم اجازت نشته- (فیض القدیر ج ۱ ص ۱۹۲ حدیث ۱۵۹)

آل و اصحاب سے محبت ہے
اور سب اولیاء سے اُلفت ہے
یہ سب اللہ کی عنایت ہے
مل گئی مُصطفٰے کی اُمّت ہے

(وَسائلِ بخشِش ص ۶۸۴)

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

﴿۲۹﴾ زه به په ورځ د قیامت د خلورو بندګانو شفاعت کووم: (۱) زما د آل عزّت و تعظیم کولو والا (۲) زما د آل ضروریات پوره کولو والا (۳) زما د آل په پریشانۍ کښې د هغوئي د مسائلو حل کولو کوشش کولو والا (٤) د خپل زړه او ژبې سره زما د آل سره مینه کولو والا- (جمع الجوامع ج ۱ ص ۳۸۰ حدیث ۲۸۰۹)

﴿۳۰﴾ الله پاک به په هغه بنده باندې ډیر سخت غضب کوی څوک چې زما آل ته تکلیف ورکوي- (جمع الجوامع ج ۱ ص ۴۱۰ حدیث ۳۰۵۹)

﴿۳۱﴾ په مره خیټه خوراک کولو والا، د خپل رب د فرمانبردارو نه غافله اوسیدلو والا، د خپل نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سنّت پریښودلو والا، وعده ماتَوَلو والا، د خپل نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د آل سره بُغض کولو والا او خپل ګاونډي ته تکلیف ورکولو والا الله پاک نه خوښوي (جمع الجوامع ج ۳ ص ۴۳۲ حدیث ۶۸۹۸)

﴿۳۲﴾ زما اهلِ بیت او انصار (یعني انصاري صحابه) زما خاص ډله او زما رازداران دي- (الفردوس ج ۱ ص ۴۰۷ حدیث ۱۶۴۵)

﴿۳۳﴾ الله پاک او ما په دې شپږو کسانو لعنت فرمائیلے دے: (۱) د الله پاک په کتاب کښې زیاتے کولو والا (۲) تقدیر ته د دروغو نسبت کولو

والا (۳) په زور زبردستئ سره حاكم جوړيدونكے (٤) هغه څيز ته عزت وركولو والا كوم څيز چې **الله** پاک ذليله كړے وي او هغه څيز ذليله كولو والا كوم چې **الله** پاک عزت داره كړے وي (٥) د **الله** پاک حرام كړے څيز حلال كولو والا (٦) زما د آل په باره كښې هغه څيز حلال ګڼړلو والا كوم چې **الله** پاک حرام كړے وي- (ترمذي ج۴ ص۶۱ حديث۲۱۶۱)

﴿۳۴﴾ درې څيزونه داسې دي چا چې د دې حفاظت اوكړو، **الله** پاک به د هغه د دين او دنيا په معامله كښې حفاظت اوكړي او چا چې دا ضائع كړل **الله** پاک به د هغه په يوه معامله كښې هم حفاظت نه كوي: (۱) د اسلام عزت و احترام (۲) زما عزت او احترام (۳) زما د خپلولئ او قرابت دارو عزت و احترام- (معجم كبير ج۳ ص۱۲۶ حديث۲۸۸۱)

﴿۳۵﴾ په خلقو كښې د ټولو نه بهتر اهلِ عَرَب دي او په عَرَبو كښې بهتر قريش او په قريشو كښې بهتر بنُو هاشم دي- (الفردوس ج۲ ص۱۷۸ حديث۲۸۹۲)

## اهلِ بيتو ته د تكليف وركوونكي په عُمر كښې بَرَكت نه وي

﴿۳۶﴾ څوک چې دا خوښوي چې د هغه په عمر كښې بركت اوشي او **الله** پاک هغه ته د خپل وركړي نعمت نه فائده وركړي نو هغه له لازم دي چې زما نه پس زما د اهلِ بيتو سره ښه سلوک كوي، څوک چې داسې اونكړي د هغه د عُمر بَرَكت دِ ختم شي او په ورځ د قيامت دِ زما مخې ته مخ تورن راشي- (كنزالاعمال ج۱۲ ص۴۶ حديث۳۴۱۶۶)

﴿۳۷﴾ ستورې د اسمان والو د پاره امان دے او زما اهلِ بيت زما د اُمَّت د پاره امان و سلامتي ده- (نوادرالاصول ج۲ ص۴۷۰ حديث۱۱۳۳)

﴿۳۸﴾ حَسَن او حُسَین رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْهُمَا په دنیا کښې زما دوه ګلونه دي (بخاري ج۲ ص۵۴۷ حدیث ۳۷۵۳)

﴿۳۹﴾ حَسَن و حُسَین رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْهُمَا د جنتیانو ځوانانو سرداران دي (ترمذي ج۵ ص۴۲۶ حدیث ۳۷۹۳)

﴿۴۰﴾ چا چې دې دواړو (حسن و حسین) رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْهُمَا او د دوئي والدینو سره مینه اوکړه، هغه به په ورځ د قیامت زما سره زما په دَرَجه کښې وي- (معجم کبیر ج۳ ص۵۰ حدیث ۲۶۵۴)

اے عاشقانِ صحابه و اهلِ بیت! یاد ساتئ! صالِحِینو سره اوسیدلو نه دا لازم نه راځي چې ګني د هغه کس دَرَجه او جَزَاء به په هر اعتبار سره د صالِحِینو (یعني د اعلٰی درجو د نیکانو) په مِثل وي- (شرح مسلم للنووي ج۱۶ص۱۸۶) بلکه په یوه دَرَجه کښې به په څه خاص اعتبارسره یو ځائے وي اګر چه د مقام عزت او معیار په اعتبار سره به لکونه درجے فرق وي، لکه څنګه چې په محل کښې بادشاه او غلام دواړه وي خو فرق واضحه دے-

اعلٰی حضرت رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰی عَلَیْه فرمائي: آلِ پاک او د هغوئي د حقوقو د تاکید په باره کښې حدیثونه حدِّ تواتُر ته رسیدلي دي- (فتاوي رضویه ج۲۴ ص۴۲۳)

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

## نیک او لمونځ گزاره جوړېدو د پاره

هر زیارت د ماښام د لمانځه نه پس ستاسو په ښار کښې کیدونکي د **دعوتِ اِسلامي** د سُنّتو ډکه هفته واره اجتماع کښې د رِضائے اِلٰهي د پاره ښو ښو نیتونو سره توله شپه تیروئ ❀ د سُنّتو د تربیّت د پاره **مَدَني قافِلو** کښې عاشِقانِ رسُول سره هره میاشت د درې ورځو سفر او ❀ هره ورځ د "**فِکرِ مَدِینه**" په ذریعه د **مَدَني اِنعاماتو** رِساله ډکوئ او د هرې مَدَني میاشتې په یکم تاریخ ئې د خپل ځائے ذِمّه دار ته د جمع کولو معمول جوړ کړئ.

زما مَدَني مقصد: "**ما ته د خپل ځان او د ټولې دُنیا د خلقو د اِصلاح کوشش کول دي.**" اِنْ شَآءَ اللّٰه عَزَّوَجَلَّ. د خپلې اِصلاح د پاره په "**مَدَني انعاماتو**" عمل او د ټولې دُنیا د خلقو د اصلاح د کوشش کولو د پار "**مَدَني قافِلو**" کښې سفر کول دي. اِنْ شَآءَ اللّٰه عَزَّوَجَلَّ







فیضانِ مدینه محلّه سوداگران زړه سبزي منډئ، بابُ المدینه (کراچۍ)
UAN: +92 21 111 25 26 92 | Ext: 7213
Web: www.maktabatulmadinah.com | E-mail: feedback@maktabatulmadinah.com